لوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون

د نظم او ډسپلین عمومي کمېټه

# د اخلاقي چلند، انصاف او عدالت پالیسي

ترتیب کوونکی: دنظم او ډسپلین عمومي کمېټه

کال:۱۴۰۵هـ ش

**۱- سریزه**

دا پالیسي د دې لپاره جوړه شوې چې د شیخ زاید پوهنتون په کچه د اخلاقي چلند، نظم، انصاف او عدالت اصول پیاوړي شي او په ټولو اکاډمیکو، اداري او د محصلانو په ټولو چارو کې قانون مندي، شفافیت او بې‌طرفي تأمین شي. دا پالیسي د نظم او ډسپلین کمېټې د دندو لایحې په رڼا کې ترتیب شوې ده.

**۲- موخې**

د دې پالیسی اساسي موخې په لاندې ډول دي:

- د پوهنتون په چاپېریال کې د نظم، عدالت او اخلاقي اصولو تأمین
- د تخلفاتو مخنیوی او د. سالم اکاډمیک چاپېریال رامنځته کول
- د محصلانو، استادانو او کارمندانو ترمنځ د مساوات اصل پلي کول
- د مجازاتو او مکافاتو عادلانه تطبیق
- شکایاتو او سرغړونو ته پر وخت رسېدنه

**۳- بنسټیز اصول**

دا پالیسي په لاندې اصولو ولاړه ده:

- عدالت او انصاف
- نظم او ډسپلین
- بې‌طرفي
- قانون‌مندي
- مسلکیتوب
- مساوات او عدم تبعیض

**۴- د تطبیق ساحه**

دا پالیسي په لاندې ټولو برخو تطبیقېږي:

- محصلان
- استادان
- اداري کارمندان
- د پوهنتون ټولې اکاډمیکې او اداري څانګې

**۵- د نظم او اخلاقي چلند اصول**

۱: د اسلام سپیڅلي دین د اساساتو او شعائرو ته احترام او پابندي.

۲: ټول استادان، اداري کارمندان او محصلان مکلف دي چې د اسلامي امارت ټولو پالیسیو او قوانینو رعایت وکړي.

۳- د پوهنتون استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو د ښو او اکادمیکو اړیکو ټینګولو ته متقابل احترام.

۴- له هر ډول مناقشې، اخلاقي او انساني کرامت ضد کړنو څخه ډډه کول.

۵- له نامناسبو جامو اغوستل چې د اسلامي شریعت، افغانې ټولنې او کلتور مغایر وي ډډه کول.

۶-له هر ډول ناوړه عمل او تاوتریخوالي، چې په پوهنتون کې د بد امنی، بې نظمی، تشنج او دښمنۍ لامل ګرځي ډډه کول.

۷- د پوهنتون لپاره د باکیفیته خدماتو په موخه محصلان باید د کمیټې سره په بېلا بېلو برنامو کې کار وکړي او په مربوطه غونډو کې فعاله برخه واخلي.

۸- محصلان مکلف دي، چې د پوهنتون په رسمي مهال کې هويت کارتونه له ځانه سره ولري.

۹- ټول محصلان کولی شي چې خپل شکایتونه، نیوکې، وړاندیزونه او نظرونه د پوهنتون او پوهنځيو د ځانګړو سیستمونو (شکایتونو صندوقونه) له طريقه د پوهنتون او پوهنځيو ریاست ته وسپاري.

۱۰-ټول محصلان، استادان او کارمندان مکلف دي چې د پوهنتون اصول، لوایح او اخلاقي معیارونه مراعات کړي.

## ۶- د پوهاوي او مخنيوي پالیسي

۱ . د نظم او ډسپلین کمېټه د نويو محصلانو لپاره د اکاډمیکو اصولو، اسلامي اخلاقو او مقرراتو په اړه پوهاوی ورکوي.

۲ . د بینرونو، لوحو، سیمینارونو او غونډو له لارې عامه پوهاوی ترسره کېږي.

۳ . د نشه‌يي موادو، ناوړه چلند او ټولنیزو ستونزو په اړه د مخنيوي پروګرامونه عملي کېږي.

## ۷- د شکایاتو او سرغړونو د مدیریت پالیسي

۱ . کمېټه په منظم ډول غونډې کوي او د شکایاتو لپاره اجنډا ترتیبوي.

۲ . د شکایتونو صندوقونه په میاشت کې لږ تر لږه یو ځل خلاصيږي.

۳ . د محصلانو، استادانو او کارمندانو شکایتونه ثبت، ارزول او پرېکړه پرې کېږي.

۴ . اړوندو برخو ته د ستونزو د حل لپاره رسمي مکتوبونه استول کېږي.

## ۸- د ارزونې او پرېکړې پالیسي

۱ . د سرغړونو په اړه پرېکړې د اسنادو او شواهدو پر بنسټ کېږي.

۲ . د کمېټې پرېکړې د اړتیا په صورت کې علمي شورا ته استول کېږي.

۳ . پوهنځيو او ډیپارټمنټونو ته د پرېکړو تطبیق لپاره رسمي خبرتیا ورکول کېږي.

## ۹- د مجازاتو او مکافاتو پالیسي

۱ . مجازات د تخلف د نوعیت او شدت له مخې تطبیقېږي.

۲ . مکافات د مثبت چلند، نظم او غوره فعالیت پر بنسټ ورکول کېږي.

۳ . ټول تصمیمونه باید عادلانه، مستند او د مقرراتو مطابق وي.

## ۱۰- د تطبیق میکانېزم

- د دې پالیسی د تطبیق مسؤلیت د نظم او ډسپلین کمېټې ته سپارل کېږي.
- کمېټه د خپلو منظمو او فوق‌العاده غونډو له لارې پرېکړې کوي.
- د اړتیا په صورت کې فرعي کمېټو ته لازمې لارښوونې ورکول کېږي.
- د کمېټې پرېکړې د اړوندو اداري او اکاډمیکو واحدونو له لارې عملي کېږي.

## ۱۱- راپور ورکول

- کمېټه د خپلو فعالیتونو ربعوار او کلنی راپور ترتیبوي.
- راپور د پوهنتون رهبري او علمي شورا ته وړاندې کېږي.

## ۱۲- پایله

دا پالیسي د اخلاقي چلند ، د نظم، عدالت او سالم اکاډمیک چاپېریال د تأمین لپاره جوړه شوې، د نظم او ډسپلین کمېټه د هغې د تطبیق مسؤله ده.

## د تایید برخه

دا پالیسي د نظم او ډسپلین عمومي کمېټې د (۲۴/ ۱۲/ ۱۴۰۴) نېټې د ( ۱۳ ) شمېر پروتوکول له مخې تایید شوې ده.

د نظم او ډسپلین عمومي کمېټې مسؤل

مفتي محمد عمر فضلي

دا پالیسي د پوهنتون علمي شورا د ( ۱۰ / ۱ / ۱۴۰۵ ) نېټې د ( ۱۲ ) شمېر پروتوکول له مخې تایید شوې ده.

د علمي چارو مرستیال

پوهنمل نورالله حسین خیل